# چاپیریال ساتنه

**لیکوال: سعادت الله واعظ**

موبایل شمېره:  0782970756، 0766509318

بسم الله الرحمن الرحیم

لنډیز

په دې لیکنه کې د چاپېریال په تعریف، د چاپېریال په اهمیت، د چاپېریال په ساتنه، د خلکو په ونډه او مسوولیت، د هېواد په لویو ښارونو کې د هوا ککړتیا عوامل او د هغې حل لارې، د چاپریالي موانعو په برخه کې د خلکو د همکارئ اهمیت، په دیني امورو کې د چاپېریال ساتنې ځای، کوم ډول جوړ جاړی کولای شي د هېواد چاپېریال د مدیریت په برخه کې ګټور ثابت شي، د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهمیت، څنګه کولای شو د اقلیمي بدلون سره توافق وکړو او د چاپېریال ساتنې په سیمو کې د ساتل شویو سیمو اهمیت بایدې بحث او خبرې شوي دي.

په دې سربېره د موضوع اړوند مسایل له کره ماخذونو تر لاسه شوي او موضوع وربانديې پوره شوې ده.

سریزه

له شک پرته چاپېریال یوه مهمه مسئله ده، نن چې ما په کومه موضوع لیکنه کړې راته تر ټولو اړینه او مهمه ښکاري، څومره چې موږ په چاپېریال خبره کوو په حقیقت کې د انساني ژوندانه په اړتیا غږیږو. پاک چاپېریال، پاکې اوبه، پاکه هوا زموږ د صحت ضامن ده، متاسفانه د افغانستان په ښارونو کې اوس نفوس زیات دی، پاکئ او تنظیف ته پاملرنه نه کیږي، ونې بوټي او ښېرازتیا نه شته، د اوبخور نظام جوړ نه دی، په ښارونو کې نقیله وسایط او ګڼه ګوڼه زیاته ده، د شنو ونو د قطع کولو کار روان دی او د چاپېریال ساتنې قانون نه عملي کیږي.

پورته ارزښتونو ته په کتو ویلای شو، چې چاپېریال د ژوند دویم نوم دی او باید د ټولنیز مسوولیت له مخې ورته ځانګړې پاملرنه وشي.

درنښت

سعادت الله واعظ

## چاپېریال څه ته وایي؟

مخکې له دې چې په چاپېریال بحث وشي، په کار ده لنډ تعریف یې وړاندې کړو. زموږ شاوخوا موجوداتو ته محیط یا چاپېریال ویل کېږي . په عمومي توګه محیط پر ژوندي او غیر ژوندي ډولونو ویشل سوی دی.

په ژوندي محیط کي انسانان، حیوانات، نباتات او کوچني ذره بیني اجسام (چي په سترګونه لیدل کېږي) شامل دي.

په غیر ژوندي محیط کي اوبه، هوا، خاوره، تیږي او داسي نور راځي؛ خو چاپېریال پوهانو، چاپېریال پر درو برخو وېشلی دی:

**ژوندی محیط) :**بایوسفېر)؛ لکه انسانان، حیوانات، نباتات او واړه ذره بیني موجودات.

**غیر ژوندی محیط) :**۱- اتموسفېر)؛ لکه هواء، (۲- لیتوسفېر)؛ لکه خاوره او تیږي او (۳- هایدروسفېر)؛ لکه اوبه.

**فرهنګي محیط :**چي له انسان سره د انسان اوله فرهنګ سره د فرهنګ اړیکي بیانوي.

الله جل جلاله د طبیعت د نظام د اجزاوو په منځ کي یو طبیعي تعادل منځ ته راوړی دی. کله چي دغه تعادل له منځه ځي، نو د استوګني او اوسېدو پر چاپېریال ناوړه اغېزه کوي. د مثال په ډول د ټولوموجوداتو د ژوند دوام د لمر په وړانګو اړه لري. انسانان او حیوانات نېغ په نېغه د لمر له انرژۍ څخه ګټه نه سي اخیستلای. نباتات د لمر انرژي په غذایي انرژي بدلوي؛ چي هم په خپله نباتات، هم حیوانات او هم انسانان ورڅخه ګټه اخلي. یوازي د لمر وړانګي د غذایي موادو سرچینه نه سي برابرولای؛ بلکي د اوبو او کیمیاوي موادو شتوالی هم ضروري دی.

انسانان د ژوند ډېري مهمي اړتیاوي لکه خواړه، کالي او کور له چاپېریال څخه لاس ته راوړي. ژوندي موجودات، لکه نباتات اوحیوانات د غذایي موادو په تولید د طبیعت د تعادل په ساتنه او د انساني نسل په پایښت کي حیاتي ځای لري. نباتات د طبیعي اقتصاد اصلي بنسټ جوړوي. نباتات د لمر رڼا (نوري انرژي) په کیمیاوي انرژي (خوړو) بدلوي. واښه خوړونکي حیوانات نېغ په نېغه له نباتاتو څخه او انسانان له حیواناتو او نباتاتو دواړو څخه ګټه اخلي. په طبیعي اقتصاد کي نباتات د تولیدوونکو په نامه یادېږي او ښکاره ده، چي له نباتاتو پرته واښه خوړونکي حیوانات او انسانان له نباتاتو او حیواناتو د خوړلو پرته ژوند نه سي کولای؛ ځکه حیوانات په نباتاتو او انسانان په دواړو ژوند تېروي. که چېري د نباتاتو اندازه لږه سي، په

پای کي د نباتاتو د پاڼو په وسیله د لمر د وړانګو د جذبېدلو اندازه راکمېږي؛ چي په نتیجه کي یې د غذایي موادو کمښت او قحطي منځ ته راځي.

د طبیعت د برخو هر جزء په طبیعي تکامل کي خاص ځای لري او د هغه د تر کیبوونکو برخو تر منځ ټینګي او نه ماتېدونکي اړیکي موجودي دي؛ چي د بې ځایه او نامعقولي لاسوهني په نتیجه کي د طبیعت نظام ګډوډېږي او کلونه- کلونه پر هغه ناوړه اغېزه کوي؛ ځکه په طبیعت کي هیڅ شی له دندي پرته نه دی پیداسوی. ګټور او مضر ژوي یا نباتات موږ ته د ګټو او زیانونو له مخي تعریفېږي؛ د مثال په ډول زهري نباتات یا د ګټورو داروګانو سرچینې دي او یا د خاوري د تخریب په مخنیوي کي مرسته کوي. حیوانات او نباتات د طبیعت د تعادل په ساتنه؛ د استوګني د چاپېریال په حفاظت او پالنه او د نړۍ په اقتصاد او ټولنیزه پرمختیا کي خورا مهم ځای لري .

د چاپېریال د حیواناتو او نباتاتو له منځه تګ، د تمدنونو د زوال او اقتصادي وروسته پاتي والي او په آخره کي د انسانانو د له منځه تګ سبب ګرځي؛ چي یو مثال یې د صحرایي ملخانو پر ضد په مبارزه کي د ډي. ډي. ټي (D.D.T.) .پوډرو د زیاتي کاروني په نتیجه کي یې پر انسانانو ناوړه اغېزې، په رحم کي د سرطان د ناروغیو سبب سوي دی .

په افغانستان کي وروستیو جګړو د استوګني چاپېریال په ټولو اړخونوکي د ژوند د محیط یو ناتار او غمیزه منځ ته راوړې ده. کرنیزي ځمکي د ماینونو په کروندو بدلي سوي دي او یا د اوبو د منابعو (چینو)، کاریزونو او... د له منځه تګ له امله شاړي سوي دي.

د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ ز. کال د ارقامو له مخي د نړۍ په سطحه له ټولو څخه زیات (د لسو میلیونو په حدودو کي) ماینونه د افغانستان په بېلابېلو سیمو کي فرش سوي وو؛ چي هر کال د سلګونو زرو انسانانو په تېره بیا د کوچنیانو د وژل کېدو او ټپي کېدو سبب ګرځېدل او په سلګونو زره کسان د کورونو د ورانېدو له امله کډوال سوي دي.

په افغانستان کي د کور ګډي جګړې بهیر چاپېریال ته ډېر زیانونه رسولي دي. کلي، مدرسې، ښوونځي، پوهنتونونه، روغتونونه، وړکتونونه او مرستونونه ړنګ او ویجاړ سوي دي. زموږ فرهنګي میراث لکه موزیمونه، ارشیفونه، کتابتونونه او نور چور او تالا سوي یا سوځول سوي دي. د ژوبڼ، موزیمونو، ځنګلونو، څړ ځایونو او الوتونکو مرغانو په شان د طبیعي میراثونو وجود ته د ناسور ټپونه رسېدلي؛ چي رغېدل یې لسګونه کلونو ته اړتیا لري .

ځنګلونه چي د ټولو افغانانو ګډ میراث دی او د چاپېریال په ساتنه کښې خورا مهم ځای لري، د څو لسیزو ناورین په بهیرکي نیمایي له منځه تللي دي؛ چي د لرګیو غیر فني او غیر اصولي

غوځول او قاچاق يې ښکاره بېلګه ده. د ځنګلونو له منځه وړل د اورښت په اندازه او د هوا او اوبو د چاپېرياِل د شرايطو پر تغيير منفي اغېزه کوي او د ډېرو ويجاړوونکو او هيبتناکو سېلابونو د ايجاد سبب ګرځي.

د لرګيو صنعت، کاغذ جوړوني، سياحت او ښاري استوګنې ته هم نه اټکل کېدونکي زيانونه رسېږي. د ځنګلونو د وهلو او تخريب مخنيوی د ملي شتمنۍ ساتنه ګڼل کېږي. د شنې اورشو پراختيا او د ونو او بوټو کرنه په هيواد کې د اقتصادي پرمختيا، د ځمکې لاندې اوبو د زېرمو د زياتوالي او د زراعتي ځمکو او نورو خاورو له تخريب څخه د مخنيوي سبب کېږي. همدارنګه څر ځايونه د متعال رب جل جلاله له لويو او مهمو نعمتونو څخه دي؛ چې پر موږ يې پېرزوکړي دي. څر ځايونه زموږ د ملي اقتصاد د خپلواکۍ ضمانت کوي؛ ځکه حيواني محصولات لکه غالۍ او پوستکي، وړۍ، کولمې او تغر د افغانستان د صادراتو مهمه برخه جوړوي.

دا چې د حيواناتو پالنه په څر ځايونو پورې تړلې ده، د څر ځايونو له منځه وړل د افغانستان اقتصاد ته د نه جبرانېدونکي خطر زنګ دی. د للمي کرنې د پراختيا، د سون لرګيو د راټولونې او په محدوده ساحه کې د سر پر سر مال څړولو په نتيجه کښې د څرځايونه له منځه تګ د اهلي او وحشي حيواناتو او طبيعي نباتاتو ژوند له خطر سره مخ کړی دی. طبيعي شتمنې د ټولو نسلونو ګډ ميراث دی؛ بايد له هغه څخه معقوله ګټه واخيستل سي او اصلي پانګه راتلونکو نسلونو ته په امانت ډول ولېږدول سي .

په افغانستان کې د چاپېرياِل د ويجاړوني او له منځه تګ يو دليل د طبيعت نه پېژندنه او د ژوند په دوام او اقتصادي پرمختيا کې د چاپېرياِل له اهميت څخه د خلکو بې خبري ده. يو شمېر خلک داسې فکر کوي، چې ګواکې ټول شيان نه تمامېدونکي دي او له طبيعي سرچينو څخه د سمې ګټې اخيستنې پر ځای يې د هغوی ښکار ته مخه کړې؛ چې ټول شيان ښکاروي اونه پوهېږي، چې په پای کې به هم دی اوهم يې ښکار له منځه ولاړسي.

په چاپېرياِل د پوهېدنې په لړ کې بايد لاندې څو ټکي همېشه په پام کې ونيول سي :

- له طبيعي منابعو څخه معقولې ګټې اخيستنې ته ساتنه وايي؛ داسې نه چې پر خپل حال پرېښودل سي.
- طبيعي زېرمې د ټولو نسلونو ملي ميراث دی او هر نسل حق لري، چې ګټه ور څخه واخلي؛ خو هيڅ نسل دا حق نه لري، چې دغه منابع يوازې په خپله ګټه استعمال کړي .

- ټول ژوی د خپل پایښت او د ژوندانه د دوام لپاره کار او هلي ځلي کوي؛ ځکه چي په طبیعت کي وړیا ډوډۍ نه پیداکیږي.
- په طبیعت کي ټول شیان یو له بل سره اړیکي لري. په یوه جزء کي لاس وهنه به نوري اجزاوي متأثره کړي.
- په طبیعت کي هیڅ شی بېله دندي نه دی پیداسوی. د یو شي د ضرر او فایدې تعریف او پېژندګلوي د انسانانو د ګټوله مخي تر سره کیږي.
- د طبیعي زېرمو له منځه تلل د فقر او اقتصادي وروسته پاته والي سبب ګرځي.
- هر ژوندی موجود د چاپېریال د مختلفو عواملو په مقابل کي ځان ته ځانګړی او محدود د زغم او تحمل ظرفیت او قوت لري. هر موجود یوازي د یادو حدودو په چوکاټ کي ژوند کولای سي.
- چاپېریال د ژوندیو موجوداتو په واسطه تغییر کوي او د ژوندیو موجوداتو په مقابل کي د چاپېریال ظرفیت، د هماغه موجوداتو، چي په دې چاپېریال کي ژوندکولای سي، د شمېرني اندازه تعیینوي.
- د ژوند بقاء د غذاء یا خوړو په زنځیر کي د انرژۍ د جریان او منرالونو په دوران پوري اړه لري او دا دوه دورانونه د ژوندانه د سیستم ثبات باوري کوي.
- طبیعت ډېره رنګیني لري او په یوه سیستم کي د ژوندیو موجوداتو رنګیني د هغه سیستم ثبات ښیي. که د ژوندیو موجوداتو د ټولني په تنوع (رنګینوالي) کي څه کموالي راسي، د هغې ټولني په جوړښت کي به یوه سلسله تغییرات راسي؛ تر څو یوه پایښت لرونکې ټولنه، چي د خپل چاپېریال سره په تعادل کي وي منځ ته راسي.

په لنډو ټکو کي ویلای سو، چي د چاپېریال زده کړه، موږ د استوګني د محیط د برخو او له یو او بل سره له زنځیري اړیکو څخه خبروي. د مثال په ډول : د نباتاتو په له منځه تګ سره حیوانات له منځه ځي؛ د نباتاتو او حیواناتو په له منځه تګ سره انسانان له منځه ځي؛ د خاوري په خوارېدلو سره کرنیز محصولات کمیږي؛ د نباتاتو په له منځه تګ سره سېلابونه زیاتیږي او د ځنګلونو په له منځه تګ سره وچکالي منځ ته راځي.

د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا ککړتیا عوامل او د هغو حل لارې

د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا څو لامله دي، لومړی دا چې ښارونه اوسمهال دومره ظریف نه لري، څومره چې پکې خلک اوسیږي، په دې معنی چې په ښارونو کې د زیاتو خلکو اوسېدل د هوا د ککړتیا یو لامل دی، بل دا چې په کورونو کې د

لرګیو سوزول، د نقیله وسایلو زیاتوالی، د شنو ساحو له منځه تلل، د ځنګلونو بټو، فابریکو او کارخانو غازات او لوګي د هوا دککړتیا لامل شوي دي. بله لویه مسئله د وچکالۍ ده، د بارانونو نه موجودیت د دې لامل شوی چې هوا ککړه شي.

د چاپیریالي موانعو په برخه کې د خلکو د همکارۍ اهمیت

د خلکو همکاري په دې اړه اړینه ده، لومړی باید عامه پوهاوی وشي، چې خلک د چاپیریال په اهمیت پوه شي او په دې وپوهول شي چې چاپیریال د انساني ژوندانه لپاره څه اهمیت لري. بیا ورڅخه د مرستې او همکارۍ غوښتنه وشي. د شنو ساحو په خوندي ساتلو کې د خلکو ونډه د پام وړ ده، په کور کلي، درو او باندو کې د شنو ونو له وهلو ډډه کولو په اړه باید خلکو ته سپارښتنه وشي، د ځنګلاتو د قطع کولو د زیانونو په اړه باید خلک وپوهول شي او د مخنیوي په برخه کې باید د خلکو همکاري جلب شي، د ښارونو او کلیو د تنظیف او پاک ساتلو په برخه کې د خلکو ونډه او همکاري مهمه ده.

په دیني اوامرو کې د چاپیریال ساتنې ځای

رسول الله (ص) فرمایي: هر مسلمان چې نیالګی کېنوي، یا تخم وشیندي، انسان الوتونکي او یا حیوان له هغو خوراک وکړي، ورته په صدقه کې حسابېږي.

بخاري، ۲۳۲۰ حدیث

په بل مبارک حدیث کې راغلي دي: هر څوک چې هغه ځمکه آباده کړي، چې خاوند نه لري، له هر چا وړاندې همدی ډېر مستحق دی.

بخاري، ۲۳۳۵

د کښت او زراعت په اړه زیات احادیث راغلي دي، له پورته مبارکو احادیثو معلومېږي، چې اسلام کښت او زراعت ته پاملرنه لري، چې کښت او زراعت د چاپیریال د ښېرازتیا تر ټولو غوره لاره ده. په دې سربېره نظافت د ایمان جز ګڼل شوی.

د اسلام مبارک دین، د پاکۍ دین دی او پاکي د چاپیریال ساتنې اصل دی.

کوم ډول جوړجاړی کولای شي د هېواد چاپیریال د مدیریت په برخه کې ګټور ثابت شي؟

هغه جوړ جاړی یا مصلحت چې له امله یې چاپیریال ښېرازه کېدی شي، اړین دی. په دې اړه باید بزګر وهڅول شي، چې زراعت ته کار وکړي، ښاریان باید وهڅول شي، چې ښار پاک وساتي، دولتي ادارې باید د ښار لپاره د څښاک د کافي اوبو برابرولو او د ښار د ونو بوټو د اوبخور لپاره لازم شرایط برابر کړي. ښاریان باید وهڅول شي، چې په کورونو کې دومره ځمکه له سمنټ کولو پرته پرېږدي چې په هغې کې ونې بوټې وکري او یا د باران اوبه

جذب کړي، دا کار به له دې سره مرسته وکړي، چې ځمکه مرطوبه وساتل شي او د وچکالۍ مخه ونيول شي.

د چاپېريال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهميت

عامه پوهاوی ډېر اړين او مهم دی، بايد د تلوېزيون، راډيو، سوشل مېډيا، اخبار، مجلو او بلې هرې وسيلې نه په کار اخېستلو سره د چاپېرياِل په اهميت خبرې وشي او عامه ذهنيت راويښ کړای شي. د جوماتونو ملاامامان، د کليو ملکان او په ولس کې بانفوذه خلک بايد په اعتماد کې واخيستل شي او د هغوی په همکارۍ بايد عامه پوهاوی وشي.

څنګه کولای شو د اقليمي بدلون سره توافق وکړو؟

د اقليمي بدلون سره توافق هله کېدای شي، چې موږ په لازمو تدابيرو فکر وکړو، د بېلګې په توګه موږ بايد په کورونو کې ونې بوټې وکرو، د اوبو سېما بايد رامنځته کړو، په کليو او باندو کې د ونو او بوټو له وهلو خلک منع کړو، د ځنګلاتو خونديتوب ته کار وکړو، د لرګيو، ګازو او سکرو سوزولو پر ځای له لمريزې برېښنا کار واخلو، پلاستيکي او شيشه يي توکي او سامان دوباره رسايکل کړو او هره هغه لاره چاره په کار واچوو چې له مخې يې د تودوخې سره توافق کېدی او د چاپېرياِل د ککړتيا مخنيوی کېدی شي.

د چاپېرياِل ساتنې په برخه کې د ساتلو شويو سيمو اهميت

د خوندي سيمو څخه بايد نظارت او څارنه وشي، هغه سيمې چې اوس مهال اکسيجن برابروي او ښېرازه دي بايد د ملي سرمايې په توګه مهمې وګڼل شي. لکه ځنګلات، درې، کلي او باندې چې په شنو ونو پوښل شوي دي.

پايله

موږ دې پايلې ته ورسېدو چې چاپېرياِل د ژوند دويم نوم دی، څومره چې له ژوند سره مينه لرو بايد له چاپېرياِل سره يې هم ولرو، که موږ ښه چاپېرياِل ولرو په دې معنی دی چې د ژوندانه اهميت ته قايل يو. نو له دې ځايه ده چې چاپېرياِل مهم وګڼو، د چاپېرياِل په پاک ساتلو کې خپل مسووليت تر سره کړو او هغه موانع له منځه يوسو د چاپېرياِل پر وړاندې خنډونه دي.

وړاندیزونه

وړاندیزونه مې دا دي چې باید د چاپېریال د اهمیت په اړه په مسلسله توګه د عامه پوهاوي غونډې جوړې شي.

په رسنیو کې منظمې خپرونې ولرو

ګردي مېزونه جوړ کړو او په چاپېریال بحث وکړو.

ماخذونه:

https://www.taleemulislam-radio.com/bashpar.php?id=6706

اسلام او چاپیریال

زیست شناسي او جامعه

اهمیت زیست شناسي